سلطان جان کلیوال

۲۱۹/۰۵/۱۸

# چی وُم بیمار.......

زه ډیر کلـونه بـی قـرار پاتی شـوم
سـتا د راتـلـو په انتظـار پاتی شوم
پرون چـا ووی چی راځـی سـبا ته
ویش له سهاره تـر سهار پاتی شوم
نه پوهیدم چی له کوم لوربه راځی؟
څلور طرف سترګي په لارپاتی شوم
در پسی درغلم د خدای ج ترکوره
لکه چی وُم هلته هم خوار پاتی شوم
د میکیدي تمبي می هم بیرته کړی
څُمونه تش وو بیا څُمار پاتی شـوم
ما وی که را شی د زړه کور به جوړشی
په همدی هیله ډیر بیکار پاتی شوم
خیال ته راځي چی نه راځي کلیوال
چي وُم بیـمار هسي بیمار پاتی شوم

می/۲۰۱۹/۱۶
مرکم ـ تورنتو ـ کاناډا